## د قسم مشروعیت په آیاتو سره

**اول آیت:** لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُمُ الْأَيْمَانَ-المائده:۸۹

**ژباړه:** نه نیسي تاسي الله جَلَّ جَلَالُهُ په لغوه (بې ارادی) سره ستاسو په قسمونو کي او مګر تاسي نیسي د هغه وعدې په ماتولو سره چي تاسو په قسمونو مضبوطه کړي وي.

**دوهم آیت:** وَلَا تَنْقُضُوا الْأَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا- النحل:۹۱

**ژباړه:** او مه ماتوئ تاسو قسمونه وروسته د کلکوالي د هغو څخه.

**دریم آیت:** وَيَسْتَنْبِئُونَكَ أَحَقٌّ هُوَ قُلْ إِي وَرَبِّي إِنَّهُ لَحَقٌّ وَمَا أَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ- یونس:۵۳

**ژباړه:** او پوښتنه کوي ستا څخه چي آیا حق دئ دا عذاب یا دعوه د نبوت؟ اې محمده! ﷺ، دوی ته وو ایه هو! قسم دئ وي زما پخپل رب چي بېشکه دغه خامخا حق دئ او تاسي عاجز کوونکي نه یاست.

**څلورم آیت:** قُلْ بَلَى وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ- سبا: ۳

**ژباړه:** اې محمده! ﷺ و وایه، ولي نه! قسم دئ زما پخپل رب چي خامخا به دا قیامت تاسي ته راځي.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قسم مشروعیت په احادیثو سره

**اول حديث:** عن عائشة: أن أبا بكر رضي الله عنه ... وقال لاَ أَحْلِفُ عَلَى يَمِينٍ فَرَأَيْتُ غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا إِلاَّ أَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ وَكَفَّرْتُ عَنْ يَمِينِي. (۱)

**ژباړه:** د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دئ، چې ابوبکر صديق رضي الله عنه وفرمايل، چې.... نبي کريم ﷺ و فرمايل: زه د يوې خبرې قسم اخلم او بله خبره تر هغه ښه ووينم نو د دغه ښه کار په کولو سره قسم ماتوم او د خپل قسم کفاره ورکوم.

**دوهم حديث:** عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَتْ يَمِينُ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم : لاَ وَمُقَلِّبِ الْقُلُوبِ(۲).

**ژباړه:** ابن عمر رضي الله عنهما وفرمايل چې د نبي کريم ﷺ قسم دا وو: لاَ وَمُقَلِّبِ الْقُلُوبِ.(داسې نه ده، قسم دئ په هغه ذات چې د زړونو اړوونکئ دئ)

## د قسم مشروعیت په اجماع سره

علامه ابن قدامه پخپل کتاب المغنی کې د قسم پر رواوالي د امت اجماع را نقل کړې ده.(۳)

---

(۱): صحيح البخاري: ۲ټوک، ۹۸۰مخ

(۲) : صحيح البخاري: ۲ټوک، ۹۸۱مخ

(۳): و أجمعت الأمة على مشروعية اليمين و ثبوت أحكامها. المغنى لابن قدامه ۱۳ټوک، ۱۹۱مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په قرآن کريم کي په مخلوق سره قسم ولي راغلئ دئ؟

**سوال:** په مخلوق سره قسم اخيستل ناروا دي حال دا چي الله رب العزة څو څو واره په مخلوق باندي قسم اخيستئ دئ مثلاً وَالعٰدِيٰتِ ضَبحًا جواب يې څه دئ؟

**جواب:** د دغه سوال په باره کي مختلف توجيهات سو ي دي.

**اول:** د شريعت احکام د مکلّفو انسانانو لپاره دي خو الله رب العزة مکلّف نه دئ. لَا يُسئَلُ عَمَّا يَفعَلُ وَ هُم يُسئَلُونَ. الأنبياء:۲۳

**ژباړه:** نه پوښتل کيږي (الله) له هغو (شيانو) چي کوي يې او دوی پوښتل کيږي.( د دوی له افعالو، احوالو او اقوالو ځکه چي دوی مخلوق او مملوک دي.)

**دوهم:** په داسي ځايو کي د رَبُّ لفظ (مضاف) سته وَالعٰدِيٰتِ په اصل کی وَ رَبِّ العٰدِيٰتِ دئ.

**دريم:** کله کله د قسم څخه مراد د هغه شي تعظيم او احترام مقصود نه وي په کوم شي سره چي قسم اخيستل سوئ وي بلکه د هغه شي عجيب حالت بيانول مقصود وي، په مخلوق باندي قسم هغه وخت ناجائز دئ چي کله د مخلوق تعظيم مقصود وي.

**څلورم:** کله کله په قسم باندي د کلام (خبرو) ښائست مقصود وي قسم مقصود نه وي لکه خلګ چي پخپلو خبرو کي وَلَعَمرِی وايي.[1]

---

(۱): احسن الفتاوی: ۵ټوک، ۴۵۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قسم اخیستلو حکم

قسم اخیستل روا دي ځکه چي په قرآن کریم کي ډېر ځله الله رب العزة قسم اخیستئ دئ البته په قسم اخیستلو کي افراط (زیاتوب) او پر هره خبره باندي قسم اخیستل مکروه او بد کار دئ ځکه چي درواغ پکښي راځي.(۱)

او الله رب العزة د هغه چا بدي بیان کړې ده چي زیات قسمونه اخلي

**اول آیت:** وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَهِينٍ-القلم:۱۰

**ژباړه:** او اې محمده! ﷺ د زیات قسم اخیستونکي، سپک (سړي) پیروي مه کوه.

**دوهم آیت:** وَلَا تَجْعَلُوا اللَّهَ عُرْضَةً لِأَيْمَانِكُمْ-البقرة:۲۲۴

**ژباړه:** او تاسو د الله نوم د خپلو قسمونو لپاره نښانه مه ګرځوئ.

## قَسم د حکم په اعتبار پر پنځه قِسمه دئ

**اول قِسم: واجب:-** که د قسم څخه مقصد د بې ګناه انسان د ځان ساتنه وه نو قسم اخیستل په داسي ځای کي واجب دي.(۲)

---

(۱): قسم کھانا تو جائز ہے. قاموس الفقه: ۵ټوک، ۳۵۳مخ.

و یکره الافراط فی الحلف بالله الخ لانه لا یکاد یخلو من الکذب. المغنی لابن قدامه: ۱۳ټوک، ۱۹۱مخ.

(۲): فصل: و الأیمان تنقسم خمسة اقسام: أحدها: واجب:- و هی التی ینبغی بها انسانًا معصومًا من هلکة. المغنی لابن قدامه: ۱۳ټوک، ۱۰۲مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوهم قِسم: مستحب:-** د دوو مسلمانانو په منځ کي د صلحي کولو لپاره يا د مسلمان شخه د شر او ضرر ليري کولو لپاره قسم اخيستل مستحب دي.(۱)

**دريم قِسم: مباح:-** د مباح شي پر کولو يا پرېښودلو باندي قسم اخيستل يا د رښتيا خبري د خبر ورکولو لپاره قسم اخيستل يا يوه خبره د واقع سره مطابقه (برابره) بلل او قسم باندي اخيستل، حال دا چي هغه خبره د واقعت خلاف وي يا د خپلو جائزو حقوقو لپاره قسم اخيستل نو دا ټوله صورتونه د مباح قسم دي.(۲)

**څلورم قسم: مکروه:-** د بد کار پر کولو يا د مستحب کار پر نه کولو قسم اخيستل مکروه دي.(۳)

**پنځم قسم: حرام:-** د درواغو پر خبرو، د ګناه پر کولو يا د واجب پر پرېښودلو قسم اخيستل حرام دي (۴)او الله رب العزة د دغسي قسم اخيستونکو بدي په قرآن کريم کي بيان کړې ده.

وَيَحْلِفُونَ عَلَى الْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُونَ- المجادلة:۱۴

---

(۱): الثانى: مندوب:- و هو الحلف الذى تتعلق به مصلحة من اصلاح بين متخاصمين أو ازالة حقد من قلب مسلم..... او دفع شر فهذا مندوب. المغنى: ۱۳ټوک، ۱۹۳مخ

(۲) : الثالث: المباح مثل الحلف على فعل مباح أو تركه الخ فأما الحلف على الحقوق الخ الثانى أنه مباح فعله، والحلف على الخبر بشئ هو صادق فيه أو يظن أنه فيه صادق . المغنى لابن قدامه: ۱۳ټوک، ۱۹۳مخ

(۳): الرابع: المکروه:- و هو الحلف على فعل مکروه أو ترک مندوب. المغنى لابن قدامه: ۱۳ټوک، ۱۹۴مخ

(۴): القسم الخامس: المحرم:- و هو الحلف الكاذب. المغنى لابن قدامه: ۱۳ټوک، ۱۹۶مخ/ حرام، جھوٹی بات کی قسم یا معصیت کے ارتکاب یا کسی واجب کي ترک پر قسم کھانا حرام ہے. قاموس الفقه: ۵ټوک، ۳۵۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: او دوی پر درواغو قسم اخلي، حال دا چې دوی پوهیږي (په خپلو درواغو).

## د الله په نامه قسم اخیستل درې قسمه دئ

**اول قسم: یمین غموس:**- هغه قسم ته ویل کیږي چې یو څوک د تیرې سوې زمانې د یو کار یا فی الحال د یو کار د کېدلو یا نه کېدلو په اړه قصدًا په دروا غو قسم اخلي مثلاً دی وايي، چې قسم دئ، چې هغه زید دئ او دی پوهیږي چې زید نه دئ.(۱)

## پور تني قسم ته ولې یمین غموس وايي؟

د دغه قسم په اخیستلو انسان اول خپل ځان په ګناه او بیا يې د دوږخ په اور کې ډوبوي.(۲)

## په یمین غموس کې کفاره نشته

په دغسې قسم اخیستلو سره سړی ګناه کار کیږي توبه او استغفار لازمي دي او کفاره پکښې نشته.(۳)

---

(۱): أما یمین الغموس فهي الکاذبة قصدا في الماضي والحال علی النفي أو علی الإثبات وهي الخبر عن الماضي أو الحال فعلا أو ترکا متعمدا للکذب. بدائع الصنائع: ۳ټوک، ۷مخ

(۲) : و انما سمیت الیمین الغموس لأنا تغمس من حلف بها فی النار. المجموع شرح المهذب: ۱۸ټوک، ۲۲۱مخ.

وهی..... غموس تغمسه فی الاثم ثم النار. الدرالمختار: ۵ټوک، ۴۹۳مخ.

(۳) : قال علیه الصلاة والسلام، من حلف کاذبا ادخله الله النار. نصب الرایه: ۳ټوک، ۴۴۵مخ.

( فتلزمه التوبة ) إذ لا کفارة في الغموس یرتفع بها الإثم فتعینت التوبة للتخلص منه. الدرالمختار مع ردالمحتار: ۵ټوک، ۴۹۳مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوهم قسم: یمین منعقده:-** هغه قسم ته ویل کیږي چي سړی په مستقبل کي د داسي خبري قسم واخلي چي د ممکناتو څخه وي.(۱)

## په یمین منعقده کي کفاره شته که یا؟

که چا دغسي قسم واخیستئ مګر پوره یې نکړئ نو کفاره واجب ده.(۲)

او په قرآن کریم کي هم د دغه قسم د کفارې ذکر شته.

وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُمُ الْأَيْمَانَ فَكَفَّارَتُهُ.....-المائده:۸۹

## د کفارې ورکولو ترتیب څه ډول دئ؟

په قرآن کریم کي د کفارې ترتیب په دې ډول بیان سوئ دئ.

**اول:** لسو مسکینانو ته دوه وخته (سهار او ماښام) متوسطه ډوډۍ یا لسو مسکینانو ته جامې ورکول.

**دوهم:** یا مریي ازادول.

**دریم:** درې روژې پرله پسې نیول.(۳)

فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ-المائده:۸۹

## آیا د قسم په کفاره کي ترتیب ضروري دئ؟

د قسم د کفارې ترتیب خو قرآن کریم بیان کړئ دئ البته دومره خبره ضروري ده که قسم اخیستونکئ مالداره وو نو په کفاره کي به

---

(۱) :منعقدة وهي حلفه علی )مستقبل (آت ) یمکنه. الدر المختار: ۵ټوک، ۴۹۶مخ

(۲) : (و )هذا القسم (فیه الکفارة). الدر المختار: ۵ټوک، ۴۹۶مخ

(۳): فان لم یقدر علی احد الاشیاء صام ثلثة ایام متتابعات. الهدایة: ۲ټوک، ۴۶۰مخ. والمستحب ان یکون الغداء والعشاء بخبز وادام. الهندیة: ۱ټوک، ۵۱۴مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ يا جامې يا مريي ورکوي روژې نيول ورته روا نه دي او که قسم اخيستونکئ تنګ دسته وو بيا په کفاره کي روژې نيولای سي.(۱)

## د قسم کفاره د لسو مسکينانو پر ځای په يوه ورځ و يوه مسکين ته ورکول؟

که پر چا باندي قسم اوښتئ وي او دی وغواړي چي د لسو مسکينانو پر ځای د لسو ورځو کفاره پر يوه ځای و يوه مسکين ته ورکړي نو دا کار نه صحيح کيږي بلکه لسو مسکينانو ته به يې جلا جلا ورکوي.(۲)

## آيا کفاره ورکول ګناه ليري کوي.

که پر چا باندي قسم واوړي او کفاره ورکړي نو دغه کفاره د سړي څخه ګناه پورته کوي.(۳)

## که چا دغسي قسم پر ګناه کولو باندي واخيستئ

که يو څوک دغسي قسم (يمين منعقده) خدا نخواسته د ګناه د کار پر کولو باندي واخلي نو د ګناه کار به نه کوي ا و د کفارې په ورکولو سره توبه او استغفار هم واجب دئ.(۱)

---

(۱): ۹۴۲۷م: کفارة اليمين ما ذکر الله تعالى الخ ان کان الحالف موسرا فکفارته أحد الاشياء الثلاثة ولا يجزيه الصوم و ان کان معسرا فکفارته الصوم. التاتارخانيه: ۶ټوک، ۳۰۰مخ

(۲): ولو أعطى مسكينا واحدا عشرة أثواب في مرة واحدة لم يجزئه كما في الطعام وإن أعطاه في كل يوم ثوبا حتى استكمل عشرة أثواب في عشرة أيام أجزأه كما في الطعام.الهنديه: ۲ټوک، ۶۲مخ

(۳): وهي أي الكفارة ترفع الإثم وإن لم توجد منه التوبة الخ. الدرالمختار: ۵ټوک، ۴۹۷مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دريم قسم: يمين لغو:** هغه قسم ته ويل کېږي چي يو څوک د تېري سوي زمانې د يوې خبري د کېدلو يا نه کېدلو په اړه قسم واخلي خو دده په فکر کي دا خبره رښتيا وي حال دا چي هغه خبره د واقعت خلاف وي.(۲)

## په يمين لغو کي نه کفاره سته او نه ګناه سته

که څوک دا رنګه قسم واخلي لکه پورته چي ذکر سو نو نه سړی ګناه کار دئ او نه پر ده باندي کفاره واجب ده (۳)

ځکه چي الله رب العزة خپله په قرآن کريم کي فرمايي: -

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ-البقرة:۲۲۵

**ژباړه:** نه نيسي تاسي الله ﷻ په لغوه (بې ارادي)سره ستاسو په قسمونو کي او مګر تاسي نيسي د هغه وعدې په ماتولو سره چي تاسو په قسمونو مضبوطه کړي وي.

## قَسم پر دوه قِسمه دئ

**اول قِسم: مطلق قَسم:** هغه قسم ته ويل کېږي چي د کوم وخت يا مُدې قيَد پکښي ذکر نه وي او س نو بيا دوې خبري پکښې دي:

(۱) : البتہ خدا نخواستہ کسی گناہ کے ارتکاب جیسے زنا، قتل یا شراب پینے کی قسم کھائی تو کفارہ کے ساتھ ساتھ توبہ و استغفار کرنا بھی واجب ہے. قاموس الفقہ: ۵ ټوک، ۳۵۵مخ

(۲) : واما يمين اللغو... وهى أن يخبر عن الماضى آو عن الحال على الظن أن المخبر به كما آخبر وهو بخلافه فى النفى أو فى الاثبات. بدائع الصنائع: ۳ټوک، ۷مخ

(۳): یمین لغو کے حکم کے بارے میں اتفاق ہے کہ نہ اس کی وجہ سے کفارہ واجب ہوگا اور نہ وہ گنہ گار ہوگا.قاموس الفقہ: ۵ ټوک، ۳۵۵مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اول:** که دا قسم مثبت وو: مثلاً یو سړی وایي په الله جَلَّ جَلَالُهُ قسم دغه ډوډی زه خورم نو تر څو چي قسم اخیستونکي او هغه شی چي قسم پر اخستل سوئ دئ موجود وي دغه نفر حانث نه دئ او که چیري قسم اخیستونکئ مړ سي یا هغه شی چي قسم پر اخیستل سوئ وي ضائع سي نو دغه نفر حانث دئ او کفاره ورکول باندي واجب دي.

**دوهم:** او که قسم منفي وو: مثلاً یو سړی وایي په الله جَلَّ جَلَالُهُ قسم دغه ډوډی به نه خورم په داسي صورت کي که قسم اخیستونکئ یا هغه شی چي قسم پر اخیستل سوئ وو په دواړو کي که یو ضائع سو نو دغه نفر حانث ندئ.

**دوهم قِسم: مقید قَسم:** هغه قسم ته ویل کیږي چي د وخت یا مودې قید پکښي ذکر وي مثلاً یو سړی وایي چي زه نن دغه ډوډی خورم نو تر څو چي قسم اخیستونکئ او هغه شی چي قسم پر اخیستل سوئ وي موجود وي او مقرر وخت پاته وي نو دغه نفر حانث ندئ او که وخت تیر سو خو دواړه شیان پاته وه نو بالاتفاق هغه نفر حانث دئ.

او که قسم اخیستونکئ موجود وو وخت هم پاته وو مګر هغه شی چي قسم پر اخیستل سوئ وو پاته نه وو نو د امام أبو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ او امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په قول دغه قسم باطل او کالعدم (هیڅ) دئ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه قسم هيڅ اثر پاته نسو او د امام ابويوسف رحمه الله په قول د تهاکلي وخت تر تېرېدلو وروسته دغه نفر حانثيږي.(۱)

## په يو چا په زوره قسم اخيستل اعتبار لري او که يا؟

پدغه مسئله کي درې صورتونه دي:

**اول صورت:** که قسم خوړونکئ مظلوم وو او قسم ورکوونکئ ظالم وو نو د مظلوم نيت اعتبار لري.(۲)

**دوهم صورت:** که قسم خوړونکئ ظالم او قسم ورکوونکئ مظلوم وو نو بيا د ظالم نيت اعتبار لري.(۳)

**دريم صورت:** که قسم خوړونکئ نه ظالم وو او نه مظلوم، نو په دغه صورت کي که قسم خوړونکئ د آئنده (مستقبل) زمانې متعلق قسم اخلي نو د قسم خوړونکي نيت اعتبار لري ځکه چي دی د قسم عاقد (خوړونکئ) دئ.(۴)

## پورتني قسمونه څه وخت معتبر دي؟

ذکر سوي قسمونه هغه وخت معتبر دي چي کله په تېر سوي کار باندي اخيستل سوئ وي او که يو چا په آئنده کي پر يو شي باندي

---

(۱): از قاموس الفقه: ۵ټوک، ۳۵۷مخ

(۲): و الفتوى على اعتبار نية الحالف ان كان مظلومًا خصوصاً لا ان كان ظالمًا. الاشباه و النظائر:۲۹مخ

(۳):عن أبی هريرة قال قال رسول الله ﷺ اليمين على نية المستحلف.صحيح المسلم: ۲ ټوک، ۴۸مخ

(۴) : اگر مستقبل سے متعلق قسم کھائی جائے تو قسم کھانے والے کی نیت معتبر ہوگی اس لئے کہ وہ اس یمین کا عاقد ہے. قاموس الفقہ: ۵ټوک، ۳۶۱مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم واخیستئ نو د قسم خوړونکي(اخیستونکي) نیت معتبر دئ ځکه چي دی خپله عاقد(قسم کوونکئ) دئ او هر عقد (تړون) د عاقد تر نیت پوري اړه لري.(۱)

## که غله یو چا ته قسم کښیږدي نو دخلاصون لاره يې څه ده؟

که پر یو چا باندي غله پېښ سي یا ظالم سړی یو څوک تېنګ کړي او بیا قسم ورکړي مثلاً چي محمد ﷺ ته (العیاذ بالله) ښکنځل وکړه یا نور څه په ووایي نو د خلاصون لاره يې دا ده چي دغه قسم اخیستونکئ دئ د هغه محمد نوم واخلي چي هغه رسول ندئ.(۲)

## بل چا ته قسم ورکول

دغه مسئله پنځه صورتونه لري:

**اول صورت:** که احمد و محمود ته وویل چي دغه کار والله ته وکړې او محمود په جواب کي هو ورته وویل او د دواړو نیت د قسم وو نو پر دواړو قسم راځي.

**دوهم صورت:** که احمد اراده د قسم ورکولو وکړه او محمود په جواب کي هو ورته وویل نو قسم یوازي پر محمود راځي.

---

(۱): و هذا علی أمر ماض أما فی المستقبل فعلی نیة الحالف لأنه لیس للمستحلف الاستحلاف فی المستقبل فلم یکن الحالف ظالمًا. شرح الحموی: ۱ټوک، ۹۷مخ

(۲) : فالحیلة أن یذکر اسم الرجل الذی تواری و یرید غیره کما لو أکره علی سب محمد ﷺ یرید محمدًا لیس برسول و لا شک فی صحته عند الخصاف و یفتی بقوله فی المظلوم. شرح الحموی: ۱ټوک، ۹۷مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دريم صورت:** محمود د قسم اراده و نه کړي بلکه د وعدې اراده وکړي نو پر يوه لا قسم نه راځي.

**څلورم صورت:** نه د احمد د قسم نيت وي او نه د محمود نو قسم يوازي پر احمد راځي.

**پنځم صورت:** احمد د قسم ورکولو اراده وکړه او محمود په جواب کي قسم واخيستئ نو پر محمود باندي قسم راځي.(۱)

## په قرآن سره قسم اخيستل

په قرآن کريم سره قسم اخيستل يا پر قرآن کريم لاس ايښودل قسم اخيستل، اصل مذهب دا دئ چي روا نه دي، البته د عرف په خاطر په قرآن سره قسم اخيستل، قسم بلل کيږي نو که چا دغه رنګه قسم واخيستئ ګنهګار دئ او د قسم د ماتېدلو په صورت کي کفاره هم لازميږي.(۲)

---

(۱): ولو قال والله لتفعلن كذا فقال الآخر نعم فهو على خمسة أوجه:
**أحدها:** أن ينوي كل من المبتدىء والمجيب الحلف على نفسه فهما حالفان الخ
**الثاني:** أن يريد المبتدىء الاستحلاف والمجيب اليمين على نفسه فالحالف هو المجيب فقط
**الثالث:** أن لا يريد المجيب اليمين بل الوعد فلا يكون أحدهما حالفا
**الرابع:** ن لا يكون لأحدهما نية فالحالف هو المبتدىء فقط
**الخامس:** أن يريد المبتدىء الاستحلاف والمجيب الحلف فالمجيب حالف لا غير. ردالمحتار: ۳ټوک، ۸۴۹مخ

(۲): وفى الفتح و لا يخفى ان الحلف بالمصحف الآن متعارف فيكون يمينًا.. و قال العينى لو حلف بالمصحف أو وضع يده عليه أو قال و حق هذا فهو يمين ولا سيما فى هذا الزمان الذى كثر فيه الحلف به. دوهم ټوک، ۲۷۰مخ.

اصل مذهب یہ ہے کہ حلف بالقرآن جائز نہیں اگر کسی نے حلف بالقرآن اٹھایا تو گناہ گار ہوگا لیکن آج کل عرف سے کوئی حلف بالقرآن اٹھاتا ہے تو گناہ گار

(c) ketabton.com: The Digital Library



## که به زه درواغجن یم نو زما دي ایمان نه نصیب کیږي، څرنګه قسم دئ؟

که څوک داسي قسم واخلي، چي که به زه درواغجن یم،نو زما دي ایمان نه نصیب کیږي، نو خپله دارنګه قسم اخیستل حرام دي (۱)

## که مي دا کار وکړئ نو د محمد ﷺ شفاعت دي مي نه نصیب کیږي قسم دئ او که یا؟

که یو نفر داسي ووایي چي که مي دا کار وکړئ نو د محمد ﷺ شفاعت دي مي نه نصیب کیږي دا قسم نه دي او کفاره نه لازمیږي خو د دا ډول الفاظو ویلو څخه ځان ساتل لازمي دي.(۲)

## که مي فلانئ کار وکړئ د الله ﷻ له دیدار څخه دي محروم سم قسم دئ که یا؟

که یو څوک پر یو کار باندي دا ډول قسم اخلي چي که مي فلانئ کار وکړئ نو د الله ﷻ د دیدار څخه دي محروم سم دغه قسم نه بلل کیږي خو آئنده د دغسي کار او قسم څخه ځان ساتل ضروري دي.(۳)

---

ہونے کے باوجود حالف شمار ہوگا اور حانث ہونے پر کفارہ لازم ہوگا.کفایت المفتی: ۹ټوک،۱۱۴مخ.

[1]: ایسی قسم (کہ اگر میں جھوٹا ہوں تو مجھ کو ایمان نصیب نہ ہو) خود حرام ہے. جامع الفتوی: ۷ټوک، ۱۷۹مخ.

(۲) : وفي أنا بريء من الشفاعة ليس بيمين لأن منكرها مبتدع لا كافر. الدر المختار: ۳ټوک، ۷۶مخ.

[3]: درمختار کتاب الایمان میں ہے .... اس روایت سے معلوم ہوا کہ الفاظ مذکورہ فی السوال سے قسم منعقد نہیں ہوتی لھذا اس کام کے کرنے کی وجہ سے کفارہ واجب نہ ہوگا آئندہ اس قسم کے الفاظ کہنے سے احتراز و اجتناب کرنا چاہئے اور صدق دل سے اس فعل قبیح سے توبہ نصوح کرنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په دوارو جهانو کي دي مخ توری سم قسم دئ که یا؟

که څوک دارنګه وایي چي که مي فلان کار وکړئ په دوارو جهانو کي دي مخ توری سم دغسي وینا قسم نه بلل کیږي خو په هر صورت کي ځان ساتل ضروري دي.(۱)

## پر ما دي د الله جل جلاله لعنت وي قسم دئ که یا؟

که یو څوک ووایي که ما دا کار وکړئ پر ما دي د الله جل جلاله لعنت یا غضب وي نو دا قسم نه بلل کیږي بلکه و ځان ته ښرا کول دي.(۲)

## که مي فلان کار وکړئ د اُمت څخه خارج یم

که یو څوک داسي قسم واخلي مثلاً که مي غوښي وخوړې نوزه به د اُمت څخه خارج یم دا قسم دئ د ماتېدلو په صورت کي پر انسان کفاره لازمیږي.(۳)

## که چا حلال شی پر ځان حرام کړ، قسم دئ

که یو چا داسي وویل چي ډوډۍ خوړل پر ما حرام دي وروسته یې ډوډۍ وخوړه نو قسم باندي راغلئ او کفاره دي ورکړي.(۱)

---

چاہئے اور آئندہ اس فعل بدسے بچنا چاہئے. فتاوی دارالعلوم دیوبند:۱۲ ټوک، ۴۱مخ.

(۱) : پورتنۍ حواله.

(۲): و لو قال ان فعلت کذا فعلی غضب الله أو سخط الله فلیس بحلف لأنه دعاء علی نفسه و لا یتعلق ذلک بالشرط و لانه غیر متعارف. فتح القدیر: ۵ټوک، ۷۴مخ

(۳): و لو قال أنا برئ من المؤمنین قالوا: یکون یمینًا. الهندیه: ۲ټوک، ۵۴مخ

عرف میں امت سے خارج ہوں کا مطلب یہ ہے کہ اسلام سے اور مسلمانوں سے بیزار ہوں اور اس قسم کے الفاظ کو شرط پر معلق کرنے سے قسم ہوجاتی ہے. فتاوی محمودیہ:۱۴ټوک،۴۷مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حرام شی پر ځان حرامول قسم دئ که یا؟

که چیري یو کس پر ځان باندي یو حرام شی حرام کړي، مثلاً چي زه به سینما ته نه ځم، نو که یې آئنده هغه (د ګناه) کار وکړ، د قسم کفاره ورباندي لازمه ده.

## پر یوه کار باندي ډېر قسمونه اخیستل یوه کفاره لازموي

که څوک پر یو کار باندي قسم واخلي مثلاًووایي چي په الله جل جلاله قسم که خوب وکړم او دا جمله تکرار کړي نو بیا خوب وکړي قسم مات کړي نو یوه کفاره لازمه ده او که څوک بیا پر جلا جلا کارونو باندي قسمونه واخلي نو د هر قسم لپاره جلا جلا کفاره ده.[۲]

## پر حق باندي ډېر قسمونه اخیستل

که یو څوک پر حق کار یا خبره باندي ډېر قسمونه اخلي نو ښه او غوره کار نه دئ بلکه مذموم دئ.[۳]

---

(۱) : ۸۷۳۰:- و تحریم الحلال یمین... ۸۷۴۲:- و لو حرم طعاما أو نحوه فهو یمین.
تاتارخانیه: ۶ټوک، ۱۲-۱۸مخ

(۲): وفي البغیة کفارات الأیمان إذا کثرت تداخلت ویخرج بالکفارة الواحدة عن عهدة الجمیع.
ردالمحتار: ۳ټوک، ۷۱۴مخ

جواب: ایک امر پر چند قسموں سے ایک ہی کفارہ کافی ہو جاتاہے. کفایت المفتی: ۹ټوک، ۱۳۵مخ

لأن تداخل الأحکام انما یکون مع اتحاد الجنس والکفارات ههنا أجناس وأسبابها مختلفة فلم تتداخل الخ لم یذکر فیه خلافا و الظاهر أنه مجمع علیه. اعلاء السنن: ۱۱ټوک، ۴۵۵مخ

(۳): وذکر بعضهم أن کثرة الحلف مذمومة ولو في الحق لما فیها من الجرأة علی اسمه جل شأنه.
روح المعانی: ۲۹-۳۰ټوک، ۴۳مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه خپل حق نه دربخښم، قسم دئ؟

که یو څوک بل چا ته ووايي، چي زه يې نه دربخښم، مثلاً مور زوی ته ووايي، چي زما شيدې نه دربخښم او بيرته يې وروبخښي، نو دا قسم نه دئ. (۱)

## د کوچني، ليوني، بيده او بېهوښه قسم

که کوچنی، ليونی، بيده يا بېهوښه کس قسم واخلي نو قسم يې نه صحيح کيږي. (۲)

## په مسخرو کي قسم اخيستل

که يو څوک د بل چا سره خبري کوي په مسخرو کي قسم واخلي نو دغسي قسم صحيح دئ او که قسم باندي واوړي نو کفاره لازمه ده. (۳)

## زه به ستا بنده يم قسم دئ که يا؟

که يو څوک په خبرو کي د بل چا سره دا ووايي که ما دا کار وکړئ زه به ستا بنده يم دا قسم دئ د ماتېدلو په صورت کي کفاره لازمېږي. (۴)

---

(۱): جامع الفتوی: ۷ټوک، ۱۶۶مخ.

(۲) :( ولا تصح يمين الصبي والمجنون ) لانعدام أهليتهما ( والنائم ). مجمع الأنهر: ۲ټوک، ۲۶۵مخ

(۳): قَالَ عليه السلام: "ثَلَاثٌ جِدّهُنّ جِدّ وَهَزْلُهُنّ جِدّ: النِّكَاحُ، وَالطَّلَاقُ، وَالْيَمِينُ". نصب الرايه: ۳ټوک، ۴۴۶مخ.

(۴) :و فی الملتقط و عن أبی حنيفة رحمه الله فيمن قال أنا عبدک من دون الله أو قال اسجد للصليب يکون يمينًا. تاتارخانيه: ۶ټوک، ۲۰مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## که مي دا کار ونه کړئ پر تا به مي کلمه ویلې وي

که څوک د ډېر درد او غصې پر وخت داسي خبري تر خوله راوباسي چي که ما دا کار و نه کړئ پر تا به مي کلمه ویلې وي نو دا قسم دئ د ماتېدلو په صورت کي کفاره لازمیږي او که یې عقیدهٔ بیا کلمه پر دغه کس وویل نو کافر کیږي.[۱]

## ستا سر یې قرآن، ما دي ووهي ، قسم دئ که یا؟

که چا وویل چي ستا سر یې قرآن ما دي ووهي او دا خبره عرف او عادت د قسم وو نو قسم دئ ،که نه وي بیا قسم نه بلل کیږي.[۲]

## که مي دا خبره و نه کړه زه دي کافر سم یا کافر یم

که څوک په خپلو خبرو کي احتیاط و نه کړي او دا ووایي که مي دا خبره و نه کړه نو زه به کافر یم یا دي کافر سم په دغه صورت کي که دغه نفر عقیدةً دا خبره کوي نو کافر دئ او که عقیدة دا خبره نه کوي نو قسم دئ د ماتېدلو په صورت کي کفاره لازمیږي.[۳]

---

(۱): وبريء من الإسلام أو القبلة أو صوم رمضان أو الصلاة أو من المؤمنين أو أعبد الصليب يمين لأنه كفر وتعليق الكفر بالشرط يمين وسيجيء أنه إن اعتقد الكفر به يكفر وإلا يكفر. الدرالمختار: ۳ټوک، ۷۱۳-۷۱۴مخ

(۲) : فإن الأيمان مبنية على العرف ، فما تعورف الحلف به فيمين وما لا فلا ... وقد قيل هذا في زمانهم ، أما في زماننا فيمين وبه نأخذ ونأمر ونعتقد .وقال محمد بن مقاتل الرازي : إنه يمين ، وبه أخذ جمهور مشايخنا اه. فهذا مؤيد لكونه صفة تعورف الحلف بها. الدرالمختار مع ردالمحتار: ۵ټوک، ۵۰۳مخ.

(۳) : وكذا قوله إن فعل كذا فهو كافر أو يهودي أو نصراني أو بريء من الله ولا يصير كافرا بالحنث فيها سواء علقه بماض أو مستقبل، إن كان يعلم أنه يمين وإن كان عنده أنه يكفر يصير به كافرا. مجمع الأنهر: ۱ټوک، ۲۷۲مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دنیا خواږه یا حلال شیان دي پر ما حرام وي

که څوک په خوله باندې داسي یوه خبره وکړي چي که مي دا کار وکړ نو د دنیا خواږه یا حلال شیان دي پر ما حرام وي، دغه نفر دا کار وکړي نو قسم باندې راغلئ کفاره باندې لازمه سوه خو د حلالو شیانو په عموم کي ښځه هم راځي که یې قسم مات کړئ نو ښځه پر دغه سړي باندې په یوه طلاق بائن سره طلاقه سوه.[1]

البته که چا ښځه نه درلوده، نو بیا یوازي قسم بلل کیږي او کفاره غواړي.[2]

## که مي فلانی کار وکړ،نو الله به پر ما جنت حرام کړئ وي

که یو څوک داسي وینا وکړي، چي که مي فلان کارو وکړ،نو پر ما به الله عزوجل جنت حرام کړئ وي یا ما ته به د دوږخ عذاب راکړي. نو دا قسم نه دئ.[3]

## که مي د احمد سره خبري وکړي ګواکي د مور سره مي زنا وکړه، قسم دئ که یا؟

که محمود پخپلو خبرو کي داسي یوه خبره وکړي چي که مي د احمد سره خبري وکړي ګواکي د مور سره مي زنا وکړه، اوس محمود

---

(۱) : ( کل حل ) أو حلال الله أو حلال المسلمین ( علي حرام ) زاد الکمال أو الحرام یلزمني ونحوه ( فهو علی الطعام والشراب و ) لکن ( الفتوی ) في زماننا ( علی أنه تبین امرأته ) بتطلیقة. الدرالمختار: ۵ټوک، ۵۳۳مخ

[2]: وان لم تکن له امرأة وقت الیمین سواء نکح بعده او لا. فیمین فیکفر بأکله او شربه. الدرالمختار: ۵ټوک، ۵۳۵مخ.

[3]: جامع الفتوی: ۷ټوک، ۱۴۹مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د احمد سره خبري وکړي نو هيڅ مؤاخذه نسته او نه دا خبره قسم دئ خو د داسي خبرو څخه ځان ساتل بېحد ضروري دي.[۱]

## د لور سره زنا که هغه کار وکړم، قسم دئ؟

که يو شخص داسي وويل، که زه فلانی ځای تهت ولاړم، نو ما به د خپلي لور سره بدفعلي (زنا) کړې وي، نو دا قسم نه دئ.[۲]

## ما لوړه وکړه، قسم دئ او که يا؟

که څوک ووايي، چي ما لوړه وکړه، چي فلانی کار نه کوم او د خلګو عرف او عادت پر دې لفظ داسي وي چي د قسم تعبير په کوي نو دا قسم دئ.[۳]

## چي دخدای زوي سې لا دي نه پريږدم قسم دئ که يا ؟

که چا وويل چي د خدای زوی سې لا دي نه پرېږدم، نو دا الفاظ د قسم لپاره نه دي بلکه په ويلو سره يې سړی نعوذ بالله کافر کيږي. نو هر مسلمان ته په کار ده چي د الله جَلَّ جَلَالُهُ په خاطر د

---

(۱): لو قال ان فعلت كذا فانا زان أو سارق أو شارب خمراً او آكل ربا فليس بحالف كذا فى الكافى. الهنديه: ۵۵مخ، ۲ټوک

[۲]: اس سي قسم نه هوګی. جامع الفتوى: ۷ټوک۱۶۹مخ.

(۳): الأيمان مبنية على العرف (قوله وعندنا على العرف)لأن المتكلم إنمايتكلم بالكلام العرفي أعني الألفاظ التي يراد بها معانيها التي وضعت لها في العرف كما أن العربي حال كونه بين أهل اللغة إنمايتكلم بالحقائق اللغوية فوجب صرف ألفاظ المتكلم إلى ما عهد أنه المراد بها. ردالمحتار: ۵ټوک، ۵۴۹مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډول الفاظو د کارولو څخه پوره پوره اجتناب اوپرهېز وکړي.[1]

## د فلان کس سره به واده نه کوم، قسم دئ؟

يو سړي په قرآن سره قسم واخيستئ، چي زه به د فلان کس سره (هغه که نارينه وي يا ښځينه) واده نه کوم خو وروسته يې نکاح وروسره وکړه، نو قسم پر واوښتئ او کفاره پر لازمه سوه [2]

## د خدای په نامه که دا کار وکړم، قسم دئ که يا؟

که څوک ووايي، چي د خدای په نامه که دا کار وکړم. نو دا قسم دئ او د ماتېدلو په صورت کي کفارهورباندي لازميږي. [3]

## ته او خدای که به ځې ،قسم دئ که يا ؟

احمد وويل، چي ته او خدای که به ځې نو دا قسم قسمِ لغوه دئ چي په دې قسم کي کفاره نسته که يې نيت د قسم وي او که نه وي.[4]

---

(۱) : إذا وصف الله تعالى بما لا يليق به أو سخر باسم من أسمائه أو بأمر من أوامره أو أنكر صفة من صفات الله تعالى أو أنكر وعده أو وعيده أو جعل له شريكا أو ولدا أو زوجة يكفر. مجمع الأنهر: ۲ټوک، ۵۰۴مخ.

۲: اپ کي مسائل اور ان کا حل: ۵ټوک، ۵۲مخ.

(۳): ولو قال :وبسم الله لا افعل كذا يكون يميناً. الهندية: ۳ټوک، ۵۳مخ.

(وسوگند می خورم بخدا) ای اقسم بالله بلسان الفارسی وکذا الحکم بسائرالسنة العجم(قسم). ۲ټوک، ۲۵۳مخ.

۴: واخرج عبد بن حميد وأبوالشيخ عن ابراهيم قال:اللغو.ان يصل الرجل كلامه بالحلف والله لتجيئن، والله لتأكلن ،والله لتشربن ونحوه هذالايريد به

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په کلمه که درواغ وایم، قسم دئ که یا؟

که څوک ووایي، چې په کلمه که درواغ وایم نو دا د خلګو دعرف پر بناء قسم دئ او د نه پوره کېدلو په صورت کي کفاره باندي اوړي.[۱]

## قسم دي، قسم بلل کیږي او که یا ؟

که څوک ووایي چې زما دي قسم وي چې دا کار به کوم، نو په شریعت کي دا قسم بلل کیږي. یعني دا مهمه نه ده چې د الله لفظ به ورسره ملګری کوي.[۲]

## په لااله الا الله که دي پرېږدم، قسم دئ، که یا؟

کلمه ویل په خپل ذات کي قسم نه دئ مګر په کوم ځای کي چې په عرف کي کلمه د قسم په نیت ویل کیږي بیا قسم دئ.[۳]

---

یميناً ولایتعمد به حلفا فهولغو الیمین لیس علیه کفارة.الدر المنثور فی تفسیر المأثور: ۲ټوک، ۵۹۸مخ.

(۱): الصحیح ان الایمان مبنیة علی العرف فما تعارف الناس الحلف به یکون یمینا ومالافلا.المجمع الانهر: ۲ټوک، ۳۶۹مخ.

والحق ان مبنی الایمان علی العرف،فما تعارف الناس الحلف به کان یمیناً.فتح القدیر: ۵ټوک، ۶۴مخ.

۲: ولو قال أقسم او حلف بلفظ المضارع او الماضی وعلقه به قسم علیه فیمین وان لم یقل بالله.۲ټوک، ۲۵۲مخ.

(۳):و لو قال لااله الا الله لا فعلن کذا فلیس بیمین الا أن ینوی یمینًا و کذلک سبحان الله والله اکبر لافعلن کذا فی السراج الوهاج.هندیة: ۲ټوک،۵۵مخ

کلمہ پڑھنا اگر چہ بذات خود قسم نہیں لیکن جہاں عرف کی موجودگی میں کلمہ پڑھنا قسم کی نیت سے ہو تو اس سے قسم واقع ہوجائے گی. فتاوی حقانیہ:۵ټوک،۳۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د څلورو آسماني کتابو څخه بيزاري

که څوک داسي ووايي چي زه د څلورو آسماني کتابو څخه بېزاره يم که مي دا کار وکړئ نو دا قسم دئ د ماتېدلو په صورت کي کفاره لازمېږي.[۱]

## ته او ايمان که ولاړ سي قسم دئ که يا؟

قسم يوازي بايد په الله ﷻ سره واخيستل سي نه په بل شي سره او که چا داسي وويل چي ته او ايمان که ولاړ سې نو دا قسم نه دئ. . بلکه قسم بايد د الله تعالی په نامه سره وي نه په غير سره.[۲]

## که چا د قسم اخيستلو وروسته فوراً ان شاءالله وويل

که څوک قسم پر يو کار يا خبره باندي واخلي مثلاً وو ايي چي په الله ﷻ که دا کار وکړم خو دستي يې انشاء الله ورسره وويل او وروسته يې هغه کار وکړئ نو قسم نه باندي اوړي.[۳]

---

(۱) : و لو قال ان فعل كذا فانا برئ من الكتب الأربعة فاذا حنث فيه فعليه كفارة واحدة. فتاوى النوازل:۲۴۱مخ

(۲) : الجواب: قسم الله کی کھانی چاہیے اللہ کے سواء ایمان یا قرآن و غیرہ کی قسم نہ کھانی چاہیے.فتاوی دارالعلوم دیوبند:۱۱-۱۲ټوک، ۳۵مخ
قسم الله تعلی کی کھانی چاہیے اللہ کے سوا ایمان وغیرہ کی قسم نا کھائی چاہیے. جامع الفتوی: ۷ټوک، ۱۷۴مخ.

(۳):عن ابن عمر رضي الله عنهما قال قال رسو الله ﷺ من حلف فاستثنى فهو بالخيار ان شاء أن يمضى على يمينه مضى و ان شاء أن يرجع رجع غير حرج. السنن الكبرى للبيهقى :۱ټوک، ۹۰مخ
الجواب: جائز ہے کیونکہ انشاء الله کهنے سے قسم نہیں رهتی. فتاوی دارالعلوم دیوبند: ۱۱-۱۲ټوک، ۳۶مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## که ستا کور ته درغلم نو د پلار زوی به نه یم (د زنا څخه به پیدا یم)

که یو نفر و خپل ملګري ته وواییي که ستا کور ته درغلم نو د پلار زوی به نه یم (د زنا څخه به پیدا یم) په دې خبره باندي څوک نه حانث کیږي یعني که قسم اخیستونکۍ کور ته ورغلۍ قسم نه باندي اوړي.(۱)

## بې ایمانه دي سم که به مي دا کار کړۍ وي

که یو څوک پخپلو خبرو کي یا پر یو کار باندي داسي وواییي چي بې ایمانه دي سم که به ما فلانکی کار کړۍ وي حال دا چي هغه کار ده کړۍ وي نو په دې باندي پر دغه نفر باندي قسم اوړي کفاره لازمه ده خو د ایمان څخه نه وزي.(۲)

## که پیغمبر راسي یا را ته وواییي، لا دا کار نه کوم

که یو سړی وواییي چي پیغمبر ﷺ راسي یا را ته وواییي، چي دا کار وکړه، لا دا کار نه کوم او وروسته پښېمانه سي توبه وکاږي نو دا قسم نه دۍ خو داسي الفاظ ویل په کار نه دي.(۳)

---

(۱): سوال: اگر یہ کھدے کہ اگر میں آپ کي گھر جاوں تو اپنے باپ سے نہیں بلکہ کسی خاکروب سے ہوں اگر چلا جاوے تو کفارہ لازم ہے یا نہیں؟
الجواب: اس میں کچھ کفارہ نہیں ہے جانا درست ہے. فتاوی دارالعلوم دیوبند:۱۲ټوک، ۴۲مخ

(۲) : الجواب: وہ شخص مسلمان رہا کفارہ قسم کا اس پر لازم ہے.فتاوی دارالعلوم دیوبند:۱۲ټوک، ۵۹مخ.

(۳): ایسا کھنے سے قسم نہیں ہوتی اور اس کام کے کر لینے سے کفارہ واجب نہیں ہے لیکن اس قسم کے الفاظ نہ کھنے چاہئیں. فتاوی دارالعلوم دیوبند:۱۲ټوک، ۷۲مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حَاشَ لله قسم دي که يا؟

حَاشَ لله د سبحان الله په معنی دئ که په دې باندي د قسم اخيستلو عرف وي نو قسم دئ او که د قسم اخيستلو عرف نه وي نو په نيت د قسم دغه الفاظ ويل قسم دئ او بېله نيت د قسم بيا دغه الفاظ ويل قسم نه دئ او د الله تعالی د هر صفت دغه حکم دئ.(۱)

## الله شاهد دئ، قسم دئ که يا؟

که يو څوک پخپلو خبرو کي ووايي چي الله شاهد يا ګواه دئ دغه الفاظ د قسم لپاره دي او که چا وويل نو قسم باندي اوړي.(۲)

## يوازي قرآن پر سر ايښودل، قسم نه دئ

که څوک يوازي قرآن پر سر کښېږدي خو په ژبه باندي د قسم الفاظ و نه وايي نو دا قسم نه بلل کېږي.(۳)

## د بخدا په لفظ قسم اخيستل

---

(۱):و لا يقسم بصفة لم يتعارف الحلف بها من صفاته تعالی کرحمته و علمه و رضائه... وسبحان الله و نحو ذلک.... قوله و سبحان الله قال فی البحر الرائق و لو قال لا اله الا الله لا افعل کذا لا يکون يمينًا الا أن ينوی و کذا قوله سبحان‌الله و الله اکبر لا افعل کذا لعدم العادة، قلت: و لو قال الله الوکيل لا أفعل کذا ينبغی ان يکون يمينًا فی زماننا لأنه مثل الله اکبر لکنه متعارف. ردالمحتار: ۳ټوک، ۷۱۵مخ

حاش لله بمعنی سبحان الله ہے اس سے قسم کا عرف ہو تو بلا نیت بھی قسم ہوجائے گی قسم متعارف نہ ہو تو بنیت قسم کہنے سے قسم ہوگی ور نہ نہیں الله تعالی کی ہر صفت کا یہی حکم ہے. احسن الفتاوی: ۵ټوک، ۴۸۸مخ

(۲) :ان الفاظ سے قسم متعارف ہے اس لئے قسم ہوگئ. احسن الفتاوی: ۵ټوک، ۴۹۹مخ

(۳) : محض قرآن سر پر رکھنا جب تک لفظ قسم زبان سے نہ کہے قسم نہیں. امداد الاحکام: ۳ټوک، ۴۰مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یو څا په فارسي یا په پښتو داسي وویل چي سوګند میخورم بخدا یا په خدای یا په خدایي قسم اخلم، نو دا قسم دئ.(۱)

## په زړه کي قسم اخیستل

که یو څوک په ژبه د قسم الفاظ و نه وایي خو په زړه کي بیا قسم واخلي نو دا قسم نه بلل کیږي.(۲)

## پر دوو درو کارونو باندي قسم

که یو څوک قسم واخلي چي فلانکی کار او فلانکی کار نه کوم بیا یې د دواړو څه یو کار وکړئ نو د یوه قسم کفاره باندي لازمیږي د هغه بل کار په کولو سره هیڅ نه لازمیږي او که یو څوک بیا قسم واخلي چي فلانکی کار نه کوم او فلانکی کار نه کوم نو دوه قسمونه دي هر کار چي وکړي قسم باندي اوړي او که دواړه کارونه وکړي دوه قسمونه باندي اوړي.(۳)

---

(۱) : و لو قال بالفارسية سوگند میخورم بخدای یکون یمینًا لانه للحال. هدایه:۲ټوک، ۴۵۹مخ

(۲): و رکنها اللفظ المستعمل فیها. الدرالمختار: ۳ټوک، ۷۰۴مخ

(۳) : الجواب: اگر حرف نفی کو مکرر ذکر کیا ہے اس طرح سے کہ میں نہ فلاں کام کرونگا نہ فلاں کام تو یہ دو قسمیں ہوں گی اور اگر حرف نفی کو مکرر نہیں کیا اس طرح سے کہ میں فلاں فلاں کام نہ کروں گا تو ایک قسم ہوگی پھر اگر اُس میں سے ایک بھی کرلیا قسم ٹوٹ جاویگی اور دوسرا کام کرنے سے دوبارہ نہ ٹوٹے گی. امداد الفتاوی: ۲ټوک، ۵۴۶مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په بيته يا کعبه قسم اخيستل

که څوک ووايي چي په کعبه يا د الله په بيته که دا کار وکړم نو دا قسم نه دئ او ځان څني ساتل ضروري دي.[۱]

## په نبي او رسول سره قسم اخيستل

که څوک قسم په نبي يا رسول سره اخلي نو دا قسم نه بلل کيږي.[۲]

## په خرقه شريفه قسم اخيستل

په خرقه شريفه قسم اخيستل نه صحيح کيږي.[۳]

## په شخص سره قسم اخيستل

په شخص (پير، ولي، استاد، پلار، او مور و غيره ) سره قسم اخيستل نه صحيح کيږي.[۴]

## په شنه آسمان سره قسم اخيستل

په شنه آسمان سره قسم اخيستل نه صحيح کيږي.[۱]

---

(۱): و قال الطبری فی حدیث الباب: ان الیمین لا تنعقد الا بالله و ان من حلف بالکعبة او آدم أو جبریل أو نحو ذلک لم تنعقد یمینه و لزمه الاستغفار لاقدامه علی ما نهی عنه ولا کفارة فی ذلک. اوجز المسالک: ۹ټوک، ۶۷۹مخ

و من حلف بالکعبة أو بالصفا و المروة فلیس علیه الکفارة. السنن الکبری للبیهقی: ۱۰ټوک، ۵۸مخ

(۲) : لا یقسم بغیر الله تعالی کالنبی و القرآن و الکعبة. الدر المختار: ۳ټوک، ۷۱۲مخ

لا تنعقد اليمين بالحلف بمخلوق كالكعبة والأنبياء وسائر المخلوقات ولا تجب الكفارة بالحنث فيها. اوجز المسالک: ۹ټوک، ۶۷۹مخ

(۳): پورتنۍ حواله

(۴): پورتنۍ حواله

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په مسجد قسم اخیستل

په مسجد سره قسم اخیستل نه صحیح کیږي. (۲)

## په اووه زره قرآن قسم اخیستل

که څوک قسم واخلي چي د خدای په اووه زره قرآن که دا کار وکړم نو دا قسم نه صحیح کیږي او ځان ځني ساتل ضروري دي. (۳)

## په مالګه (نمک) قسم اخیستل

په مالګه (نمک) سره قسم اخیستل نه صحیح کیږي. (۴)

## په ډوډۍ قسم اخیستل

په ډوډۍ قسم اخیستل نه صحیح کیږي. (۵)

## په دسترخوان قسم اخیستل

په دسترخوان قسم اخیستل نه صحیح کیږي. (۶)

## د یو چا په عمر یا ژوند قسم اخیستل

د یو چا په عمر یا ژوند قسم اخیستل نه صحیح کیږي. (۷)

(۱): پورتنۍ حواله
(۲): پورتنۍ حواله
(۳): پورتنۍ حواله
(۴): پورتنۍ حواله
(۵): پورتنۍ حواله
(۶): پورتنۍ حواله
(۷): پورتنۍ حواله

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تا دي دا کعبه يا قرآن وشرموي، قسم دئ او که يا؟

که ځوک و بل چا ته ووايي چي دا کعبه، قرآن، حج، لمونځ او روژه وغيره دي وشرموه نو دا قسم نه بلل کيږي بلکه دا ښرا ده. (۱)

## مخ دي په دغه قرآن تور سه

که ځوک و بل چا ته ووايي چي مخ دي په دغه قرآن تور سه نو دا ښرا ده قسم نه دئ. (۲)

## په روح سره قسم اخيستل

که چا وويل، چي ستا په روح مي دي قسم وي، نو دا قسم بلل کيږي.(۳)

## په سر سره قسم اخيستل

که چا په سر سره قسم واخيستئ، نو دا قسم بلل کيږي.(۴)

## د قرآن څخه بېزاره يم، قسم دئ ؟

که يو شخص داسي وويل: که ما دا کار وکړ، زه به د قرآن څخه بېزار يم، نو دا قسم دئ. يعني که يې هغه کار وکړ، قسم پر اوړي او کفاره به ورکوي. (۱)

---

(۱): پورتني حواله

(۲): پورتني حواله

(۳): بجان تو و سر تو، فان اعتقد انه حلف، والبر به واجب يكفر ذكره القهستانى وغيره وهو يقوى ما قدمنا ان التعويل على العرف، واعتمده العينى وغيره فليكن الضابط. الدالمنتقى فى شرح الملتقى: ۲ټوک، ۲۶۹مخ.

(۴): پورتني حواله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مصحف څخه به بېزار یم، که مي دا کار وکړ، قسم دئ؟

که څوک ووايي، زه دي د مصحف څخه بېزار سم يا بېزار يم، نو دا قسم نه دئ.[2]

البته که چا داسي وويل، چي د هغه څخه بېزار يم، چي پ مصحف کي دي، نو دا قسم دئ.[3]

## د نبي څخه بېزاري، قسم دئ او که یا؟

که چا وويل، چي د نبي څخه به بېزار یم، که مي فلانی کار وکړ، نو دا قسم دئ.[4]

## زه و خدای که دي پرېږدم، قسم دئ که یا؟

که څوک و بل چا ته قسم داسي واخلي چي زه و خدای که دي پرېږدم نو د ماتېدلو په صورت کي قسم اوړي او کفاره لازمه ده.[5]

## د خدای په خدايي که دي پرېږدم، قسم دئ

که څوک قسم واخلي او يو چا ته دا ووايي چي د خدای په خدايي که دي پرېږدم نو دا قسم دئ.[1]

---

[1]: لو قال انا برئ من القران والنبى فانه يكون يمينا، لان البرأة منهما كفر، وتعليق الكفر بالشرط يمين، ولو قال انا برئ من المصحف لا يكون يمينا، ولو قال انا برئ مما فى المصحف يكون يمينا لان ما فى المصحف قران. مجمع الانهر: ۲ټوک، ۲۷۰مخ.

[2]: پورتنۍ حواله.

[3]: پورتنۍ حواله.

[4]: پورتنۍ حواله.

(5): والقسم بالله..... فيمين. الدرمختار: ۳ټوک، ۷۱۰مخ

فاذا حنث فيه فعليه كفارة واحدة. فتاوى النوازل: ۲۴۱مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ولاکه قسم دی که یا ؟

زموږ په ټولنه کي تر ډېره حده د انسانانو څخه د خبرو پر وخت دا لفظ ډېر اوربدل کیږي چي کله یو څوک پوښتنه کوي په جواب کي ولاکه ورته وایي نو زموږ د معلوماتو پر بنیاد دا قسم لغو دئ په دې باندې پر یو چا قسم نه اوړي. [۲]

## په دغو الفاظو سره قسم اخیستل، قسم نه بلل کیږي

۱. بحق رسول الله
۲. بحق الکعبة
۳. بحق الاسلام
۴. بحق القرآن
۵. بحق المساجد . [۳]

---

[۱]: وبيان هذه الجملة إذا قال وعزة الله وعظمة الله وجلاله وكبريائه يكون حالفا. بدائع الصنائع: ۳ټوک، ۱۱مخ
والقسم بالله..... فیمین.الدرمختار: ۳ټوک، ۷۱۰مخ

[۲]: ۹/۱۰۰۷: عن عائشة رضی الله عنها ام المؤمنین انها کانت تقول لغو الیمین قول الانسان لا والله و بلی والله .اوجز المسالک: ۹ټوک، ۵۹۶مخ
و ایضًا : قالت: هو کل شیئ یصل به الرجل کلامه لا یرید یمینًا لا والله و بلی و الله و مالا یعقد علیه قلبه. اوجز المسالک: ۹ټوک، ۵۹۶مخ

[۳]: واما بحق الله بالباء فیمین بلاخلاف، وبحق رسول الله لیس بیمین بلا خلاف، وکذا بحق الکعبة والاسلام والقرآن والمساجد، کما فی القهستانی عن النظم. الدرالمنتقی شرح الملتقی: ۲ټوک، ۲۷۲مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## كه چا قسم واخیستئ چي خبري به نه كوي

كه يو ثوک قسم وا خلي چي خبري به نه كوي خو وروسته د داسي چا سره خبري وكړي چي ويده وي او خبري يې اوريدلې نو پر دغه قسم اخيستونكي باندي قسم اوړي. [۱]

## كه چا قسم واخیستئ چي خبري به نه كوي خو قرآن يې ووايه

كه چا قسم واخيستئ چي خبري به نه كوي خو په لمانځه كي يې قرآن يا تسبيح وويل نو قسم نه ورباندي اوړي او كه يې د لمانځه د باندي (خارج) قرآن يا تسبيح وويل بيا قسم ورباندي اوړي. [۲]

## د نابالغ كوچني په قرآن سره قسم، اعتبار نه لري.

كه نابالغ هلک يا انجلۍ په قرآن سره قسم واخلي، چي فلانی كار به نه كوم او بيا يې وكړ، نه ګناه، نه كفاره او نه هم نور څه ورباندي سته. [۳]

## د قرآن كريم په يو سورة باندي قسم اخيستل

كه ثوک د قرآن كريم په يوه سورت باندي قسم واخلي او قسم راسي نو يو قسم پر سړي باندي اوړي او يوه كفاره لازميږي كه

[۱]: ما اذا حلف لا يكلمه فكلمه نائما بحيث يسمع فانه يحنث. شرح الحموى: ۱ټوک، ۱۸۱مخ.

[۲]: حلف لا يتكلم فقرأ القرآن أو سبح فى الصلاة لا يحنث اتفاقًا و ان فعل ذلک خارجها حنث على الظاهر .الدر المختار: ۳ټوک، ۷۹۴مخ

[۳]: بچے كا قران اٹھانا اس كى قسم كھانا غير معتبر ہے. وہ بچہ يا بچى اگر وہ كام پھر كرلے تو كفارہ وغيرہ نہيں لازم ہوگا. جامع الفتوى: ۷ټوک، ۱۷۵مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چيري د هر آيت په مقابل کي کفاره لازمه سي نو حرج او تکليف دئ.[1]

## پر غير ممکنو شيانو باندي قسم اخيستل

که چا پر يو داسي کار قسم واخيستئ چي هغه کار ناممکن وو مثلاً ويې ويل چي والله دی به آسمان ته خيژي يا به دغه ډبره په سرو زرو اړوي نو پر دغه سړي دستي قسم اوړي ځکه دغه سړي د داسي کارو څخه عاجزه دئ.[2]

## پر درواغو باندي قسم اخيستل

يو خو خپله د درواغو حراموالئ په آياتو او أحاديثو ثابت دئ او د امت اجماع او اتفاق هم دئ نو پر درواغو باندي قسم بيا په درجه اولی حرام دئ.[3]

## په خرڅولو او رانيولو کي قسم اخيستل

که څوک د خرڅولو او رانيولو په وخت کي په قسم اخيستلو باندي عادت سوئ وي نو لازمي ده چي دا عادت پريږدي ځکه چي داسي قسم د سودا برکت له منځه وړي.[1]

---

[1]: و لا يجب اکثر من کفارة لأنها يمين واحدة فلم توجب کفارات کسائر الأيمان الخ و قال الحنفية لأن الحلف بصفات الله کلها و تکرار اليمين بالله تعالی لا يوجب أکثر من کفارة واحدة فالحلف بصفة واحدة من صفاته أولی أن تجزئه کفارة واحدة و لأن ايجاب کفارات بعدد الآيات يفضی الی الحرج. اعلاء السنن: ۱۱ټوک، ۴۵۵مخ

[2]: و فی حلفه والله ليصعدن السماء أو ليقلبن هذا الحجر ذهبا حنث للحال لامکان البر حقيقة ثم يحنث للعجز عادة. الدر المختار: ۳ټوک، ۷۸۹مخ

[3]: قاموس الفقه: ۵ټوک، ۳۵۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## که ظالم په یو چا د طلاق الفاظ ووایي

که پېښه داسي وسي چي یو ظالم کس بل چا ته داسي قسم ورکړئ چي پر تا دي خپله ښځه طلاقه وي که تا دا کار کړئ دئ نو که دغه مظلوم سړی طلاق واخلي خو په ذهن کي يې بله ښځه وي نو طلاق د امام خصاف رحمه الله پر قول نه واقع کيږي.[۲]

## په طلاق سره قسم اخيستل

که څوک و خپلي ښځي ته ووايي چي که فلانکي کور ته ورغلې نو طلاقه يې نو دغه طلاق و کور ته د ورتګ وروسته واقع کيږي.[۳]

## که خدای راته ووايي چي.....

که یو څوک په خپلو خبرو کي داسي ووايي چي که چیري خدای راته ووايي چي دا فلانکئ کار وکړه لا به يې هم و نه کړم نو دا سړی کافر کيږي.[۴]

## چي فلانکئ خدای سي لا.....

که څوک په خبرو کي داسي الفاظ ووايي چي فلانکئ سړی

---

(۱): ۲۰۸۷: إن أبا هريرة ، رضي الله عنه ، قال : سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : الحلف منفقة للسلعة ممحقة للبركة. الصحيح البخاري: ۳۳۵مخ

(۲): و ما قاله الخصاف مخلص لمن حلفه ظالم الخ فمن وقع في يد الظلمة و أخذ بقول الخصاف فلا بأس به كذا في الولو الجية. الاشباه والنظائر: ۵۶مخ

(۳): إذا أضافه إلى الشرط وقع عقيب الشرط اتفاقا مثل أن يقول لامرأته : إن دخلت الدار فأنت طالق. الهنديه: ۱ټوک، ۴۲۰مخ

هکذا في فتاوی حقانیه: ۲ټوک، ۴۹۳مخ

(۴): إذا قال : لو أمرني الله بكذا لم أفعل فقد كفر كذا في الكافي . الهنديه: ۲ټوک، ۲۵۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای سي لا خپل حق ځني اخلم نو دا سړی کافر کیږي.(۱)

## چي خدای او رسول دي پر سر ودریږي لا....

که څوک داسي الفاظ و بل چا ته د یو کار په باره کي ووایي چي خدای ﷻ او رسول دي پر سر ودریږي لا خپل حق درڅخه اخلم نو دا سړی کافر کیږي.(۲)

## که چا ته د قسمونو شمېر معلوم نه وي

که چا قسمونه اخیستي وي مګر شمېر یې ورته معلوم نه وو چي ډېر دي او که لږ نو د دغه نفر د قسمونو شمېر باید لږ معتبر سي او بیا کفاره ورکړل سي.(۳)

## د خپلي ښځي په طلاق قسم اخیستل

که چا وویل چي ما د خپلي ښځي په طلاق قسم واخیستئ، مثلاً زما دي قسم وي د خپلي ښځي په طلاق، نو دا قسم نه دئ. ځکه چي په عرف کي دا قسم نه بلل کیږي.(۴)

---

(۱): لو قال لاخر اګر خدای شود از وی حق خود بستانم یکفر. خلاصة الفتاوی: ۲ټوک، ۳۸۳مخ
اګر خدای دوجهان ګردی حق خویش از تو بستانم یکفر. الهندیه: ۲ټوک، ۲۶۰مخ

(۲): پورتنۍ حواله

(۳): قیل له: کم یمین علیک؟ قال أعلم ایمانًا کثیرة غیر أنی لا اعرف عدد ها ما ذا یصنع؟ قال یحمل علی الأقل حکمًآ وأما الاحتیاط لانهایة له. الاشباه والنظائر: ۶۵مخ

(۴): ولو قال بالفارسیة سوګند خورم بطلاق زنم لا یکون یمینًا لعدم التعارف. الهدایه: ۲ټوک، ۴۵۹مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مآخذ او مراجع



| شماره | کتاب | طبع |
|---|---|---|
| ۱ | تفسیر کابلی | |
| ۲ | روح المعانی | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۳ | الصحیح للبخاري | قدیمي کتب خانه کراچي/دارالسلام ریاض |
| ۴ | الصحیح للمسلم | قدیمي کتب خانه کراچي |
| ۵ | اعلاء السنن | ادارة القرآن والعلوم الاسلامیة کراچي |
| ۶ | مشکوة المصابیح | امیر حمزه کتب خانه کوئټه |
| ۷ | السنن الکبری للبیهقی | دارالحدیث قاهره |
| ۸ | اوجز المسالک | دارالقلم بیروت |
| ۹ | نصب الرایه | مکتبه حقانیه پېښور |
| ۱۰ | المغنی لابن قدامه | دارالحدیث قاهره |
| ۱۱ | الدرالمختار مع رد المحتار | مکتبه رشیدیه کوئټه/ سعید کراچي |
| ۱۲ | بدائع الصنائع | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۱۳ | مجمع الأنهر | مکتبه غفاریه کوئټه |
| ۱۴ | الاشباه والنظائر | قدیمي کتب خانه کراچي |
| ۱۵ | شرح الحموی | ادارة القرآن والعلوم الاسلامیه کراچي |
| ۱۶ | المجموع شرح المهذب | دار الحدیث قاهره |
| ۱۷ | فتح القدیر | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۱۸ | هدایه | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۱۹ | هندیه | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۲۰ | تاتارخانیه | مکتبه حنیفیه کراچي |
| ۲۱ | فتاوی النوازل | مکتبه حقانیه پېښور |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۲۲ | خلاصة الفتاوى | مکتبه رشیدیه کوئټه |
| ۲۳ | فتاوى محموديه | ادارة الفاروق کراچي |
| ۲۴ | قاموس الفقه | زمزم پبلشرز کراچي |
| ۲۵ | فتاوى حقانيه | دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک |
| ۲۶ | کفايت المفتي | ادارة الفاروق کراچي |
| ۲۷ | احسن الفتاوى | طبع سعيد کراچي |
| ۲۸ | امداد الاحکام | مکتبه دارالعلوم کراچي |
| ۲۹ | امداد الفتاوى | مکتبه دارالعلوم کراچي |
| ۳۰ | فتاوى دارالعلوم ديوبند | دارالاشاعت کراچي |

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**